AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغــان جرمن آنلاین

رحمت اله روان ۲۰۰۸/۱۱/۲۰م

# په افغانستان کی دتیزاب پا شلوفتواگانی چا ورکړی دی؟

دافغانستان داسلامي جمهوريت جمهور رئيس حامدکرزي وويل چي په کندهار کي دښوونځي په زده کوونکو نجونوباندي دتيزابو دشيندلو عاملين به په عام محضر کي اعدام شي باختر آژانس ته دجمهوري رياست دمطبوعاتي دفتر دمعلوماتو له مخي حامدکرزي چي دجمهوري رياست په ماڼي کي له خبريالانو سره په يوه مطبوعاتي ناسته کي خبري کولي دکندهار ولايت دنازو انا ليسي په زده کوونکو نجونو باندي دتيزابو شيندونکي وغندل او دغه غيراسلامي او غيرانساني عمل يي دهغو کسانو کار وباله چي نه غواړي ددي خاوري بچيان دعلم خاوندان او داخاوره دپوهي او پرمختګ له لاري په خپلو پښو ودريږي . خو پښتنه داده چه داځوک دی چه دغه رنګه ناوړه عملونه تر سره کوی ایا دافغا نستان محترم ولس مشر صا حب لا تر اوسه په دی نه پو هیږی چه دا ځو ک دی دغه ډله چه دغه رنګه عملو نه سر ته رسوی د افغا نستان خلګو لا ډیر ښه پخوا پیژندلی دی او دا ددوی لومړی ځل نه دی دوی له ۱۳۵۷ هـ ش کال را په دی خوا دغسی نا وړه عملونه څو ځله په مکرر ډول تکرار کړی دی . داهغه ځوک دی کوم چه لو مړی ځل یئ دافغا نستان ده بیچاره وخلګو یه ضد دجهاد اعلا ن وکړی او ور سره یئ فتوا ور کړه چه دښونځیو دزده کو نکو په مخونو با ند ی تیزا ب وپا شی دافغا نستان خلګ ډیر ښه پو هیږی چه دا دهغو جهادی رهبر صاحبا نو دفتواو نتجه ده چه دخپلو بادرانو په لمسون ئی لا پخوا صادر کړی ده او تر اوسه ادا مه لری .نو کرزی صا حب با ید دغه فا سده ډله ښه وپیژنی چه اوس دده دکا بینی او دپارلمان بر جسته غړی دی چه یو لاس یئ په دولت کی ده او بل لاس یئ ددولت له مخا لفینو سره ده دا هغه دپښتو برجسته متل دی چه وایئ (له پسه سره سم ژاړی اولیوه سره لم خوری ) نو کرزی صا حب ددی انتظار مه لره چه دا خلګ دستګیر شی او هغه بیا ته په عا م محضر کی اعدام کی دا جنا یت کاران ستا سره دی او که ووا یم چه ستا ډیر نژدی دوستان او ملګری دی او ته شپه او ور ځ له هغوی سره مشوری کوی او هغوی ته بعضی وخت دجهاد دوخت رهبران وائی او وایئ چه دوی جهاد کړی دی با ید په هر مجلس کی ترنورو په مخکی صف کی نا ست وی ته که رښتیا غواړی چه مجر مان په ښکاره ډول اعدام وی یا بسم اله پس چا ته منتظر یئ ایا دی ته منتظر یئ چه بیا یو ځل دا سی ستا په خبره دبی غیر تی عمل اجراکی او بیا ته په کوم خبری کنفرا نس کی خپله تباره تیزه کړی او یا بیا کوم روغتون ته دتفریح لپاره دقر با نی شو پشتنه وکړی داکارونه کومه خاصه نتجه نه ورکوی بدون دخلګو له بازی ورکولو څخه اوبس . . .

زه په یقین او اطمنان در ته وا یم چه دغه عمل هغو بی غیر تو تر سره کړی دی چه دتش په نا مه دجهاد په مد رسو کی ددغه ستا جهادی رهبرانو له خوا روزل شوی دی تا سی دخپلو معلو ما تو دښه مکمل کیدو په خا طر دمحترم جهادی رهبر او اسلا می عا لم شیخ آصف محسنی کند هار ی څخه پښتنه و.کړی چه په ۱۳٦٤ هـ ش کال کی دکند هار په لو مړی نا حیه کی چا دښځو پر مخ چه دپا کی او نظا فت په خا طر وزنانه حمام ته روانی وی تیزاب وپا شل او ددغه بی غیر تی عمل فتوا چا ور کړی وه او دکو می ګناه په اسا س ؟ چه دهغی حا دثی قر با نیان اوس هم په کند هار کی شته او دمایوبی شپی او ور ځی تیروی . .

خو د هیواد دشمنان باید په دی پوه شی، چه په دی اعمالو د تعلیم، روزنی او تحصیل مخه نشی نیولی. د هیواد باتوری او ننګیالی شځی به هیڅکله و نه بیریږی دوی په دی عمل نه یواځی دا چی ځانونه د شرم او نفرت سره مخامخ کړل بلکه د تاریخ په پاڼو کی یی ځان ته توره کرشه په نصیب کړل دا هغه کسان یا اجیران دی چه هرکله یی د ښځو د نهضت په وړاندی دریدلی دی د تاریخ په ډیرو پړاونو کی لکه د امانی دوری نه تر اوسه یی خنډونه پیش کړی او پیشوی. دا د ویلو وړ بولم چی دا هغه شځی دی چی کله به هم دتعلیم اوتربیی نه لا س په سر نه شی.

او دا هغه غیرتی اوباتورخویندی اومیندی دی لکه د زرغونی انا په شان چه خپل ګران زوی ته ئی د میړانی درس ورکړی او د افغانستان پولی یی تر ډهلی غزولی وی دوی په خپله پاکه غیږ کی اتلان او قهرمانان لکه احمدشاه بابا، میرویس خان نیکه، شاه امان الله خان، میرمسجدی خان، امین الله خان لوګری، امین الله خان چرخی، وزیر محمداکبر خان، او په زرهاو نور د ویاړ بچیان روزلی. ددوی روح تاسوته نفرین او لعنت درلیږی چی تاسو پرهغو نجونو تیزاب پاشئ چی د سبا قهرمانی میندی او خویندی دی دافغانستان تول خلګ په هغوی با ندی لعنت وایئ کوم چه دغه نامردانه عمل ئی تر سره کی . ..


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

جمهور رئیس دنجونو په مخونو باندي دتیزابو شیندل ډارن عمل اودبي غیرتو کسانو کار وباله او هغوي يي دپرديو مزدوران وبلل چي غواړي افغانستان دتل لپاره دنورو احتياج واوسي. حامدکرزي وويل ددي خاوري دښمنان دي په دي پوه شي چي د افغانستان خلک ددوي په دا ډول ډارنو او شرموونکو عملونو هیڅکله هم نه ویریږي بلکي دعلم او پوهي دترلاسه کولو په لاره کي یي هوډ لاپياوړي کيږي.زه نه پو هیږم دپردیومزدورانو څخه دښاغلی کرزی صا حب هدف کوم کسان او ډلی دی که هدف دطالبا نو اسلا می تنظیم وی خو دطالبانو دغه عمل نه دی منلی هغوی هم دکرزی په شان دغه عمل دوطن اودخلګو ددښنانو کار بللی دی . که لږ څه متوجه شو مزدوران هغه څوک دی چه همیشه يئ دپردیو په اشاره دغه ملک خراب کړی ده دپردیو په اشاره او لمسون يئ دافغا نستان عا مه شتمنی لکه سړکونه،روغتونونه،مکتبونه،داوبوزیرمی اوکانالونه،دمخابراتو سیستمونه او داسی نو دخاورو سره مخا مخ کړی دی چه په دغه باب يئ ښه مثالونه موجود دی..چه دمسال په ډول یو دهغو څخه دمحترم ستر جنرال رحیم وردګ دتش په نا مه دجها د ددوری کار نا می دی چه دهغه څخه ښا غلی عبدالجبار ثابت پرده پورته کړی ده چه محترم ستر جنرال صاحب غوښتل دپردیو په اشاره او امر دسروبی دبریښنا ډنډ والوزه وی او پردیو ته دمزدوری ښه خد مت وکړی محترم کرزی صا حب دا یو ډیر کو چنی مسال وء په زرهاوداسی مسالونه موجود دی چه قلم او کا غذ ورځنی عاجز دی هغه ده پردیو مزدوران نن ورځ دافغا نستان په خلګو با ندی حکو مت کوی .اوستا دکا بینی مهم او بر چسته غړی دی . ..

جمهور رئیس ډاډ څرګند کړ چي د نازو انا دلیسي ټپي زده کوونکو نجونو ته به د زده کړي ښه شرایط برابر او هغو کسانو ته چي په دوي باندي يي تیزاب شیندلي دي له دیني عالمانو او دستري محکمي له چارواکو سره لاسلامشوري وروسته په عام محضر کي داعدام سزا ورکړي.بلی محترم کرزی صا حب دافغا نستان خلګ نه یوازی ددغی حادثی دعاملینو داعدام غوښتنه لری بلکی په هیواد کی دټولو دغسی حا دثواوپیښو وعاملونو ته داعدام دجزا ورکو لوهیله اوامید لری دا به یو غیری قا نونی عمل وی چه هغو اشخاصو کوم چه په ١٣٦٠ کلونوکی دغه ډول دتیزاب پا شلو فتواوی ور کړی وی اوعملا يئ دزده کو نکو پر مخونو با ندی تیزاب پا شلی دی هغه دی معا ف وی اوهغه دی ستا دکا بینی اویا ملی شورا غړی وی با ید په لومړی قدم کی دغه دفتوا ګانو خاوندان اوورپسی دی ټول مجرمین داعدام جزا ووینی د شنبې په ورځ د ولسي جرګې د فرهنګي چارو مسوول محقق په غونډه کي د کندهار د دې پېښي سخته غندنه وکړه او له دولتي چارواکو يې هيله وکړه که د دغو نجونو تداوي په افغانستان کي امکان ونه لري نو خارجي هېوادو ته دي ولېږل شي.

ما ته هم د ښاغلي محقق دا څرګندوني څکه د حيرانۍ وړ وې، چي په دي ولایت کي په لسګونو ماشومان او ښځي په بمباريو او ځانمرګو بریدونو کي وژل کيږي، تر اوسه مي وانه ورېدل چي ښاغلي محقق دي د دې ډول غمیزو غندنه کړې وي. یوشمېر نژدې کسان يې دا هم وايي چي ښاغلی محقق حتی په داسي پېښو خوشحاله شوی هم دی.

محقق خو هغه څوک دی چي د کوچیانو او هزاره ګانو په مسئله کي يې د نه خوړلو مصنوعي اعتصاب وکړ، ایا تاسي په دې خبر یاست چي پر نجونو د تیزاب شیندلو مسئله کي نومړی کوم سیاسي غرض لري او د دې ټکي باریکي چيري ده؟ .وسلام

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de